د الیکسندریا ښار، ویرجینیا

# استوګنځی

## خدمات او برنامې

alexandriava.gov/housing

تازه شوی په مي 2025

که تاسو غواړئ په بله ژبه اړیکه ونیسئ، مهرباني وکړئ د وړیا تحریري او شفاهي ژباړې د خدماتو لپاره له 703.746.3960 شمېرې سره اړیکه ونیسئ یا LanguageAccess@alexandriava.gov ته برېښنالیک واستوئ.

## د کرایه نشینو لپاره سرچینې

alexandriava.gov/go/1792

### د ارزانه کرایې واحدونو لارښود

د ارزانه کرایې انتخابونو په اړه معلومات وړاندې کوي.

د وړتیا شرایط: هغه کرایه نشین چې عاید یې تر 80% پورې AMI وي *(د عاید حدود په 2یمه پاڼه کې وګورئ)*

اړیکه: alexandriava.gov/Alex311 یا 703.746.4311

په alexandriava.gov/eNews کې نوم لیکنه وکړئ (ډاډ ترلاسه کړئ چې د "Affordable Housing" خبرونو کټګورۍ انتخاب کړئ) ترڅو په ښار کې د ارزانه او مناسبې بیې کرایې واحدونو او د هستوګنې اړوند برنامو او خدماتو په اړه میاشتنۍ تازه معلومات ترلاسه کړئ. د لاسرسي وړ واحدونه چې، د ویرجینیا ایالت په سطحه د کرایې د استوګنځي پکې شاملېږي د انتخابونو لپاره، دې وېب پاڼې ته مراجعه وکړئ virginiahousingsearch.com.

### د ARHA عامه استوګنځی او د استوګنځي د انتخاب د رسید برنامه

د الیکسندریا د بیارغونې او استوګنځي اداره (ARHA) د عامه استوګنځي ملکیت لري، هغه اداره کوي او په ښار کې د استوګنې د انتخاب رسیدونه تطبیقوي. د نورو معلوماتو لپاره، دې وېب پاڼې ته مراجعه وکړئ arha.us.

اړیکه: info@arha.us یا 703.549.7115

### د ښار د کور مالک - کرایه نشین لپاره خدمات

د کور اړوند د ځمکې خاوند او کرایه نشین شخړو او شکایتونو په برخه کې مرسته کوي، او د کور مشورې او د ټولنیزو سرچینو ته راجع کولو چارې برابروي.

د وړتیا شرایط: د کور مالکان او په ښار کې کرایه نشین

اړیکه: alexandriava.gov/Alex311 یا 703.746.4311

### ایا د ساتنې ستونزه لرئ؟

په خپل اپارتمان کې د ساتنې د یوې نا حل شوې ستونزې د حلولو د څرنګوالی په اړه د معلوماتو ترلاسه کولو لپاره دې وېب پاڼې ته مراجعه وکړئ alexandriava.gov/go/1792.

### کرایه ځای ته د لاسرسي د تعدیل پروګرام

د فزیکي معلولیت لرونکو کرایه نشینو لپاره د لاسرسي اړوند تعدیلاتو لپاره مالي مرسته او همغږي رامنځته کوي.

د وړتیا شرایط: د ښار کرایه نشین چې معلولیت لري او عواید یې تر 80% پورې وي AMI *(د عوایدو حدود په دوهمه پاڼه کې وګورئ)*

اړیکه: alexandriava.gov/Alex311 یا 703.746.4311

### د استوګنځي د چارو دفتر

421 King Street, Suite 215, Alexandria, VA 22314

alexandriava.gov/housing

housing@alexandriava.gov

703.746.4990 703.838.4309

HousingAlexandriaVA

@HousingAlexVA

## ایا د استوګنځي له کړکېچ سره مخ یاست؟

703.346.5599

703.746.5700

alexandriava.gov/DCHS

د ټولنیزو او بشري خدماتو ریاست 4850 Mark Center Drive, Alexandria, VA

### د بې کوره کسانو لپاره سرچینې

- **د بې کوره کسانو لپاره د خدماتو د ارزونې مرکز**
  د بې کوره کېدو سره مخ د کورنیو لپاره د لومړي تماس نقطې په توګه خدمات وړاندې کوي. د نورو معلوماتو لپاره، دې وېب پاڼې ته مراجعه وکړئ alexandriava.gov/go/2478 یا د DCHS سره اړیکه ونیسئ. د ورځې او موسمي سرپناه انتخابونه هم په لاندې ځایونو کې شته:
- **David's Place** (دوشنبه - شنبه، سهار له 7 څخه تر 9 بجو)، 930 North Henry Street, Alexandria, VA، یا دغه شمېرې ته زنګ ووهئ 703.548.7500
- **د ژمي پناه ځای** (د نومبر له 1لمې نېټې څخه د اپرېل تر 15مې پورې، د ماښام له 7 بجو څخه د سهار تر 7 بجو)، 2355-A Mill Road, Alexandria, VA، یا دغه شمېرې ته زنګ ووهئ 571.652.9984

### د شړلو مخنیوي سرچینې

د ښار د لنډمهاله بیړني مرستې او د ایستلو سره مخ د ټیټ عاید ایستل کېدونکو کورنیو لپاره د مرستې اړوند نورو معلوماتو لپاره، alexandriava.gov/go/2349 ته مراجعه وکړئ یا له DCHS سره اړیکه ونیسئ.

د شریکو سرچینو په اړه د معلوماتو لپاره (په شمول د خوړو، اوبو، برېښنا، امنیتي تضمینونو، کالیو، فرنیچر، موټر ترمیم، او طبي پاملرنې په برخه کې مرسته)، د ټولنیزو سرچینو د لېست غوښتنه وکړئ!

د ایستلو او عادلانه استوګنځي اړوند حقوقي خدماتو لپاره، له لاندې سرچینو سره اړیکه ونیسئ:

- **د شمالي ویرجینیا حقوقي خدمات** lsnv.org، ته مراجعه وکړئ یا 703.778.6800 شمېرې ته زنګ ووهئ.
- **د حقوقي مرستو د عدالت مرکز** justice4all.org، ته مراجعه وکړئ یا 703.778.3450 شمېرې ته زنګ ووهئ.
- **د ویرجینیا د وکیلانو د راجع کولو خدمات** vlrs.community.lawyer، ته مراجعه وکړئ یا 800.552.7977 شمېرې ته زنګ ووهئ.

### د اوبو، برېښنا او نورو خدماتو مرسته

د ویرجینیا د ټولنیزو خدماتو د ریاست له لوري د عاید له مخې وړ کورنیو ته د تودوخې او تهویې د مرستې په اړه د معلوماتو لپاره، 855.635.4370 شمېرې ته زنګ ووهئ یا دغه وېب پاڼې ته مراجعه وکړئ commonhelp.virginia.gov/access.

د ښاري ادارې له لوري وړاندې شوې د اوبو، برېښنا او نورو خدماتو د مرستې په اړه د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره، alexandriava.gov/go/1734 وېب پاڼې ته مراجعه وکړئ، یا له DCHS سره اړیکه ونیسئ.

### د زړو او معلولو لویانو لپاره د کرایې مرسته

P هغو ټیټ عاید لرونکو کورنیو ته د کرایې مرستې او نور خدمات وړاندې کوي چې عمرونه یې له 65 کلونو څخه زیات وي او/یا په دایمي ډول معلول دي. د نورو معلوماتو لپاره، alexandriava.gov/go/2482 ته مراجعه وکړئ یا له DCHS سره اړیکه ونیسئ.

ALX Breathes د الیکسندریا ښار د روغتیا ریاست له لارې یوه وړیا برنامه ده چې د سالنډۍ یا COPD لرونکو ناروغانو سره په استوګنځي کې په اسانۍ سره د ساه اخېستو په چارو کې مرسته کوي. د نورو معلوماتو لپاره، alexandriava.gov/ALXBreathes ته مراجعه وکړئ.

## آیا زه د مرستي لپاره پر شرایطو برابر یم؟

کورنۍ باید د ښار د ځینو استوګنځي د برنامو لپاره د عوایدو شرایط پوره کړي. د عوایدو محدودیتونه د برنامې او د کورنۍ د غړو شمېر له مخې توپیر لري او د دا د متحده ایالاتو د استوګنې او ښاري پراختیا وزارت (HUD) له لوري د سیمې د منځني عاید پر بنسټ ټاکل کېږي.

| د سیمې د منځني عاید سلنه (AMI) | د 2025 مالي کال د کورنیو د اندازې پراساس د ټولیز کلني عاید حدونه (مخکې له مالیې) | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | 1 کس | 2 کسان | 3 کسان | 4 کسان | 5 کسان | 6 کسان* |
| د AMI 30% | $34,450 | $39,350 | $44,250 | $49,150 | $53,100 | $57,050 |
| د AMI 40% | $45,920 | $52,480 | $59,040 | $65,560 | $70,840 | $76,080 |
| د AMI 50% | $57,400 | $65,600 | $73,800 | $81,950 | $88,550 | $95,100 |
| د AMI 60% | $68,880 | $78,720 | $88,560 | $98,340 | $106,260 | $114,120 |
| HUD 80% | $74,800 | $85,450 | $96,150 | $106,800 | $115,350 | $123,900 |
| د AMI 80% | $91,840 | $104,960 | $118,080 | $131,120 | $141,680 | $152,160 |
| د AMI 100% | $114,800 | $131,200 | $147,600 | $163,900 | $177,100 | $190,200 |

**سرچینه: HUD؛ د استوګنځي د چارو دفتر** *د عاید حدود د 7 یا زیاتو غړو لرونکو کورنیو لپاره هم شته

## د کور د مالک لپاره سرچینې alexandriava.gov/go/1946

### د کور د ترمیم اړوند پور برنامه (HRLP)

د مقرراتو څخه د سرغړونې، ساختماني ستونزو، د لیډ ترمیم، د انرژۍ موثریت ښه والی، او نورو خوندیتوب او لاسرسي بدلونونو ته د رسیدو لپاره تر 135,000 ډالرو پورې (د اپارتمانونو لپاره تر 75,000 ډالرو پورې) بې سوده، وروسته تادیه کېدونکي پورونه چمتو کوي.

د ورتیا شرایط: د کور مالکین چې تر 80% پورې عاید لري AMI
*(د عاید حدود وګورئ)*

اړیکه: 703.746.4311 یا alexandriava.gov/Alex311

### د کور د ترمیم خدمات

Rebuilding Together هغو کورنیو ته چې د عاید له پلوه وړ وي، د کور وړیا ترمیمونه، د خوندیتوب او لاسرسي بدلونونه، او د انرژۍ موثریت ښه والی برابروي، چې پکې مشران، د ماشومانو لرونکي کورنۍ، معلولین، او پخواني سرتېري شامل دي. د نورو معلوماتو لپاره، 202.800.6032، شمېرې ته زنګ ووهئ یا دغه وېب پاڼې ته مراجعه وکړئ rebuildingtogetherdca.org.

### د مشورې ورکولو سپارښتنې

د مالي پوروونو مدیریت، جرم او ضبط د مخنیوي په موخه د وړیا مشورې لپاره همکارو ادارو ته د مراجعې خدمات چمتو کوي.

اړیکه: 703.746.4311 یا alexandriava.gov/Alex311

### د ګډو ګټو ټولنو ته روزنه ورکول

د استوګنیزو او سیمه ییزو ټولنو غړو ته د وړیا حکومتدارۍ روزنې خدمات وړاندې کوي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره، دې وېب پاڼې ته مراجعه وکړئ alexandriava.gov/go/1946.

د ښار د املاکو د مالیې تخفیف **برنامو په اړه د زړو او معلول کسانو او د 100% خدماتو سره تړلې**معلولیت لرونکو پخوانیو سرتېرو لپاره د معلوماتو ترلاسه کولو لپاره، دغه وېب پاڼې ته مراجعه وکړئ alexandriava.gov/TaxRelief، یا 703.746.4800 ته زنګ ووهئ.

## د کور اخېستونکي لپاره سرچینې alexandriava.gov/go/1941

### د کور مالکیت مرستندویه پورونه او د ارزانه کور مالکیت واحدونه

د ښار د مرستندویه ملکیتونو د اخېستلو لپاره د پرېکړې او/یا تړون لګښتونو لپاره بې سوده، وروسته تادیه کېدونکي پورونه وړاندې کوي.

د ورتیا شرایط: د لومړي ځل لپاره د کور پیرودونکي چې عاید یې تر پورې AMI 100% لري *(د عاید حدود وګورئ)*

اړیکه: 703.746.4311 یا alexandriava.gov/Alex311

### د ټیټ سود مالي مرستې

د ګروي سود کچې کمولو لپاره Virginia Housing SPARC مالي مرستې ته لاسرسی چمتو کوي.

د ورتیا شرایط: د کور هغه اخېستونکي چې عاید یې تر AMI 100% پورې وي *(د عاید حدود وګورئ)*

اړیکه: 703.746.4311 یا alexandriava.gov/Alex311

### د ویرجینیا د استوګنې د کور اخېستونکي لپاره مشوره

په انګلیسي او هسپانوي ژبو کې وړیا حضوري او مجازی مشوره او روزنه ورکوي همداراز د کور اخېستونکو ته د ویرجینیا د استوګنې له بازار څخه د ټیټې کچې سود او په ښار کې د کور اخېستلو اړوند مرستندویه پورونو ته لاسرسی چمتو کوي. د نورو معلوماتو لپاره، virginiahousing.com ته مراجعه وکړئ.

اړیکه: 877.843.2123

په alexandriava.gov/eNews کې نوم لیکنه وکړئ (داد ترلاسه کړئ چې د "Affordable Housing" خبرونو کټګوري انتخاب کړئ) ترڅو په ښار کې د پلور لپاره د ارزانه کور مالکیت واحدونو او د کور مالکیت موضوعاتو په اړه د راتلونکو وړیا روزنیزو برنامو په اړه تازه معلومات ترلاسه کړئ.

## مناسب استوګنځی او نورې اړونده سرچینې

### د بشري حقونو دفتر

د توپیري چلند ضد قوانینو پلي کول د احتمالي توپیري چلند په پلټنه کې: د استوګنځي پلور یا کرایې؛ د استوګنځي اعلان؛ د معلولیت د اسانتیاوو یا تعدیلاتو؛ د استوګنځي د اخېستلو، جوړولو، نوي کولو یا ترمیم لپاره پور ورکول. د نورو معلوماتو لپاره، دې وېب پاڼې ته مراجعه وکړئ alexandriava.gov/humanrights.

اړیکه: 703.746.3140

### مناسب استوګنځي مناسب ځایونه

له معلولیت لرونکو کرایه نشینو سره د معقولو اسانتیاوو اړوند غوښتنلیکونو په بشپړولو کې مرسته کوي ترڅو د مالکانو سره د عادلانه استوګنې اړوند شخړې حل کړي.

اړیکه: 703.746.4311 یا alexandriava.gov/Alex311

### د کورني تاوتریخوالي برنامه

د کورني تاوتریخوالي قربانیانو او د هغوی کورنیو ته د مشورې او بحران مداخلې، طبي، پولیس او محکمې ملاتړ، د استوګنې او نورو مواردو ته د ارجاع کولو خدماتو له لارې په اونۍ کې 7 ورځې او 24 ساعته، ملاتړي خدمات وړاندې کوي. د نورو معلوماتو لپاره، دې وېب پاڼې ته مراجعه وکړئ alexandriava.gov/DomesticViolence.

اړیکه: 703.746.4911

د معلولیت اړوند مناسبو اسانتیاوو لپاره، مهرباني وکړئ له gabriella.dilena@alexandriava.gov سره اړیکه ونیسئ یا 703.746.3089, Virginia Relay 711 ته زنګ ووهئ.